د افغانستان بانک

د پولي سیاست لوی آمریت

# د پولي پړسوب میاشتینی راپور

## په هیواد کې د قیمتونو کچې تغییراتو ته بشپړه کتنه

# چنگاښ۱۳۹۹

## لړ لیک


پیژندنه ................................................................................................................................................ ت

مصرفي توکو د قیمتونو شاخص.................................................................................................................... ث

په هېواد کې د پیسو د پړسوب کچې ته لنډه کتنه: ................................................................................................ ث

د پیسو ټولیز پړسوب دکلنۍ محاسبی پر بنسټ چنګاښ میاشت کې کموالی ښکاره کوي. ............................................................ ۲

**(۱) خوراکي توکو شاخص دکلنۍ بدلون پر بنسټ د ټیټو قیمتونو ښکارندوی دی.**.......................................................... ۳

**(۲) غیرې خوراکي توکی کلنی پړسوب دچنګاښ په میاشت کې هم بدلون کړی دی.** ............................................................ ۹

دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون) ............................................................................................................ ۱٤

## پېژندنه

د افغانستان بانک د قانون لومړي بند او دويمې مادې پر بنسټ، د افغانستان بانک بنسټيزه موخه په هيواد کې ،د قيمتونو ثبات ساتل دي ،چې له مخې د پيسو پړسوب کچه بايد داسې ډول وساتل شي تر څو د خلکو اقتصادي پريکړې اغيزمنې نه کړي.

د افغانستان بانک ،د پيسو سياستونو لوی آمريت ،په هيواد کې د پيسو سياستونو د پلي کېدونکي ارګان په توګه ،د سمو او مناسبو پاليسو د جوړونې او اجراکونې دندې په غاړه لري. دا پاليسې بايد د هيواد د اقتصادي ودې او د مالي ثبات په برخه کې مرسته وکړي .

په يو ټاکلي وخت کې ،د قيمتونو ټوليزې کچې لوړوالي ته د پيسو پړسوب وايي . د يادونې وړ ده د يو يا څو توکو د قيمتونو لوړوالي ته د پيسو پړسوب نه ويل کيږي .

د افغانستان بانک د پيسو سياستونو لوی آمريت په هيواد کې د پيسو د پړسوب کچې، د معلومولو لپاره د مصرفي توکو له شاخص څخه ګټه پورته کوي .د قيمتونو شاخص په يوه ټاکلې دوره کې د توکو اوچوپړتياوو د قيمتونو د بدلون د اندازه کولو معيار ته ويل کيږي . چې دا معيار د بيلابيلو لارو څخه په ګټې اخيستنې سره محاسبه کيږي ځکه هره لارهد شاخص په ځانګړو برخو کې بدلونونه څرګندوي.

د پيسو سياستونو لوی آمريت په هيواد کې د قيمتونو کچه وخت ناوخت تر څيړنې لاندې نيسي تر څو د قيمتونو ناغوښتونکې حالت د هيواد په اقتصادي حالت ناوړه اغيز رامينځته نه کړي او د يادونې وړ ده چې د قيمتونو په کچه کې تيز تغيرات د هيواد په اقتصادي ودې ناوړه اغيزه لري نو له دې کبله د پيسو سياستونو لوی آمريت دا ژمنه کوي په هيواد کې به سمې او مناسبې پيسو پاليسۍ جوړې او پلي کړي . د افغانستان بانک د پيسو سياستونو لوی آمريت دا هڅه کوي چې په هيواد د پيسو د پړسوب کچه د يو عدد په کچه وساتي ،چې په دې ډول د هيواد اقتصادي ودې ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

## مصرفي توکو د قیمتونو شاخص

د مصرفي توکو د قیمتونو شاخص په هیواد کې د کورنی لګښتنو د اندازه کولو تر ټول مهم او ټولیز معیار ګڼل کیږي دا په داسې حال کې ده چې په نړی کې د قیمتونو د بدلون د اندازه کولو لپاره له نورو معیارونو څخه ګټه پورته کیږي خو د مصرفي توکو د قیمتونو شاخص یو بشپړ او مهم شاخص دی او د قیمتونو د کچې د اندازه کولو لپاره د یو مهم شاخص په توګه منل شوی دی .

د احصایې او معلوماتو ملي اداره ،چې په هیواد کې د مصرفي توکو د قیمتونو د شاخص د ترتیب دنده په غاړه لري په دې وروستیو وختونو کې یو شمیر مهم بدلونونه رامینځته کړي دي .چې د دې بدلونونو له مخې د سروې ګانو سیمه له لسو ولایتونو څخه تر شلو ولایتونو پورې پراختیا موندلی ده او همدا رنګه د وندو په برخه کې هم یو څه بدلون رامینځته شوی دی . د دې تر څنګ په دې څیړنه کې بنسټ کال یا اساس کال هم بدلون موندلی دی چې د زیږدیز کال۲۰۱۱ د مارچ میاشتې څخه ۲۰۱۵ د اپریل میاشت ته بدل شوی دی . چې دا بدلونونه د پوښښ سیمه ډیروي اود یو ټولیز او ښه انځور څرګندونه کوي .په تیریو وختونو کې د خوراکي توکو ونډه په ټولیز شاخص کې ۵۲ سلنه وه خو اوسمهال بیا ۴۸ سلنې ته راټیټه شوی او د غیرمصرفي توکو ونډه په تیر وخت کې ۴۸ سلنه وه چې اوسمهال ۵۲ سلني ته لوړه شوی ده .چې دا بدلونونه د کورنیو مصرفي توکو په سیستم کې د پام وړ بدلون څرګندوی .دا معلوموي چې د غیرې خوارکي توکو ارزښت تر خوراکي توکو لوړ دی .

د هر توکي ونډه ،د هماغه توکي ونډه د مصرفي توکو په کڅوړه کې څرګندوي چې د ترلاسه کولو لپاره یې مصرفول انعکاسوي . د یو توکي ونډې ډیرښت په هماغه کڅوړه کې د نورو سره پرتله کوي په نوي شاخص کې د غوښې ،غوړیو،وچه او تازه میوو،مصاله جاتو ،د کور سامانونه،درملنه ،اړیکې،اطلاعات اوفرهنګ،هوټلونو برخه زیاته شوی ده دا په داسې حال کې چې د غلو او دانو ،شیدی،پنیر د چر ګانو هګی،سابه،خواږه،تنباکو ،جونګړه،ښوونه او روزنه ،ټرانسپورت اود متفرقه برخه کم شوی ده .

## په هېواد کې د پیسو د پړسوب کچې ته لنډه کتنه:

کله چې مونږ د پیسو پړسوب اوږد مهاله بدلون په نظر کې ونیسوو، د پیسو پړسوب اړوند زماني توقعات ښایي مثبت او د افغانستان بانک له خوا د کابو کولو وړ وي او دا په هغه صورت کې شونې ده چې پالیسی او پلانونه په داسې ډول طرحه شي چې د عرضې او تقاضاترمنځ خلا او همدارنګه د کورنیو بازارونو تکیه په وارداتي توکو راکمولو لپاره ګټوري وي. اوسمهال افغانستان کې ګڼ شمیر عوامل وجود لري چې د پیسو پړسوب لپاره موثر او د پیسو پړسوب په بدلون کې مهم رول لوبوي. له هغو عواملو څخه یو تر ټولو مهم عامل چې د افغانستان د پیسو پړسوب لپاره موثر دی، بهرنی عامل دی لکه د لویو سوداګریزو شرکاو، د پیسو پړسوب په کچه کې تغیرات چې د هغه له ډلې څخه د پاکستان او ایران نومونه یادولی شو ځکه افغانستان د خپلې اړتیا زیاته برخه له دغو هیوادونو څخه پوره کوي او کورني بازارونه د دغو هیوادونو له وارداتي توکو څخه ډک دي

د کورنیو تولیداتو ټیټه کچه، راکړو ورکړو کې له امریکایې ډالرو څخه استفاده، په هیواد کې د منظم ټرانسپورټي سیستم نشتون، له ګاونډیو هیوادونو سره سوادګریزې او ترانزیتي ستونزی، بازار کې د بشپړ سیالی نشتون(انحصار)، اقتصادي او سیاسي ثبات نشتوالی او د راتلونکې په اړه اندیښنې او بی باوری هغه عوامل دي چې زمونږ هیواد کې د قیمتونو د بدلولونو او نوساناتو لامل ګرځي. له دې ستونزو سره سره، د افغانستان بانک د پیسو سیاست عمومي آمریت په دې واکمن دی چې په هیواد کی د پیسو د پړسوب کچه تر خپل واک لاندې ونیسي .چې له یو رقمي عدد څخه لوړ نشي.


تهولیز پړسوب برخی
غویی ۱۳۹۵ چنگاښ ۱۳۹۹
تهولیز پړسوب
خوراکی توکی
غیر خوراکی توکی
۱۸.۰
۱۵.۰
۱۲.۰
۹.۰
٦.۰
۳.۰
۰.۰
-۳.۰
-٦.۰
۱۲.۷
۶.۳
۰.۳
غویی ۹۵
تله۹۵
کب ۹۵
زمری۹٦
مرغومي ۹٦
غبرګولي ۹۷
لړم ۹۷
وری۹۸
وږي۹۸
سلواغه ۹۸
چنګاښ۹۹

## مهم ټکي

- د ۱۳۹۹لمريز لیږدیز کال دچنګاښ په میاشت کې ټولیز پرسوب کموالی موندلی دی. د مصرفي توکو قیمتونه د کلني محاسبې پربنسټ ٦،٣٦سلنې تر ٦،٣٣سلنې پورې کموالی څرګندوي .داکموالی د خوراکي توکو شاخص دقیمتونو د کموالی له امله منځ ته را غلی دی.
- د خوراکي توکي د قیمت شاخص له ١٢،٨٨ سلنې تر.١٢،٧١سلنی پورې کموالی ښيي ، دا کموالی ډیر د(غله او دانه ، غوړی، شیدی،سابه، خوږه ،او مصاله جات ) قیمتونو د کمښت له امله رامنځته شوی دی .
- په ورته مهال کې د غیرې خوراکي توکو قیمت د روان لمریز لیږد کال د غبرګولی له میاشتې څخه د چنګاښ په میاشت کې له.٠،١٣سلنې تر ٠،٣١ سلنې ډیرښت څرګندوي .
- د غیرې خوراکي توکو شاخص دچنګاښ په میاشت کې زیاتوالی موندلی دی، او دا زیاتوالی (کور،دکور سامانونه، مخابرات،ښوونه او روزنه)

برخه جوړوي.چي د غیرې خوراکي توکو شاخص یی تر اغیزې لاندې نیولی دی .

- د هستې( خالص) انفلاسیون (٣٠% Mean Trimmed ) هم دچنګاښ په میاشت کې تغیر څرګندوي. خلاصه شوی اوسط یو مهم معیار دهستې( خالص)تورم ګنل کیږي. چې٥،٩٩سلنېتر ٥،٢٨ سلنې پوری کموالی کړی دی.
- په همدې توګه ټولیز پرسوب د کابل ښار په کچه د کلني بدلون پر بنسټ له ٤،٤٧ تر ٤،٦٩سلنې پورې د چنګاښ په میاشت کې زیات شوي دی او دمیاشتیني بدلون پر اساس ٠،٠٧نه تر.٠،٩٣-سلنېد چنګاښ میاشت کې کموالی کړی دی.
- د کابل په کچه د خوراکي توکو شاخص دکلني محاسبې پر بنسټ له ٨،٦٧سلنې تر٩،٩٩سلنې پوری زیات شوی دی. او د غیر خوراکي توکو شاخص د کلنی بدلون پر بنسټ د کابل په کچه له ١،٧٤سلنې تر ١،٣٠سلنی پوري کمښت څرګندوي .

**د پیسو پړسوب (غبرګولی -چنګاښ) ۱۳۹۹**

| توکي | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
|---|---|---|---|---|
| | غبرګولی | چنګاښ | غبرګولی | چنګاښ |
| | | | | |
| **ټولیز پړسوب** | ٦,٣٦ | ٦,٣٣ | -۰,۸۱ | -۱,۱۱ |
| خوراکي توکي او غیرې الکولي څښاک | ۱۲,۸۸ | ۱۲,۷۱ | -۱,۸۷ | -۱,۸۱ |
| غیرې خوراکي توکي،تنباکو او چوپړتیاوې | ۰,۱۳ | ۰,۳۱ | ۰,۳٥ | -۰,۳٥ |
| ټولیز شاخص د استوګن ځایونو،غلو دانو ،غوړیو او ټرانسپورټ څخه پرته . | ٤,٦۱ | ٥,۲۳ | -۱,٤٥ | -۰,۹۳ |
| پیسو پړسوب د خلاصه شوي اوسط (۳۰٪)(لنډیز (Trimmed mean | ٥,۹۹ | ٥,۲۸ | | |
| دکابل شاخص | | | | |
| ټولیز پیسو پړسوب | ٤,٤۷ | ٤,٦۹ | ۰,۰۷ | -۰,۹۳ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي څښاک | ۸,٦۷ | ۹,۹۹ | -۱,۳۹ | -۰,۸۸ |
| غیرې خوراکي توکي،تنباکو او چوپړتیاوې | ۱,۷٤ | ۱,۳۰ | ۱,۱۱ | -۰,۹٦ |

سرچینی : د احصایي او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

## د پیسو ټولیز پړسوب دکلنۍ محاسبې پر بنسټ چنګاښ میاشت کې کموالی ښکاره کوي.

د پیسو ټولیز پړسوب کچه د ۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال دکلني بدلونونو پر بنسټ دچنګاښ په میاشت کې کموالی کړې دی. دمصرفي توکو ټولیزپیسو پړسوب له ٦,۳٦ سلنې٦,۳۳سلنې پورې کموالی څرګندوي. دا کموالی د خوراکي توکو دقیمتونو دکموالی نه سرچینه اخیستې ده، چې ټولیز شاخص یې تر اغیزې لاندې نیولی دی.



او له بلې خوا، څرنګه چې  دمیاشتینیمحاسبې پر بنست چې توپیرونه په لندمهاله توګه د څېړنې لاندې نیول کېږي اوپه لنډ مهاله توګه بدلونونه څېړي د دې محاسبې پر اساس له ۰,۸۱-سلنې څخه تر ۱,۱۱-سلنې پورې دچنګاښ په میاشت کې کم شوی ده.




### (۱) خوراکي توکو شاخص دکلنۍ بدلون پر بنسټ د ټیټو قیمتونو ښکارندوی دی.

د احصائې او معلو ماتو ملي ادارې د وروستیو ارقامو د لاس ته راوړلو  پر اساس دکلني محاسبې پر بنسټ د خوراکي توکو قیمت له ۱۲,۸۸ سلنې پورې ۱۲,۷۱سلنې  پورې  کمښت څرګندوي .د دې کمښت اصلي لامل د(  غله او دانه ، غوړي، شیدی،سابه، خواږه ،او مصاله جات) دقیمت کموالی دی.




| خوراکي توکي د پيسو پرسوب (غبر گولی-چنگاښ) ۱۳۹۹ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| توکي | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
| | | غبرگولی | چنگاښ | غبرگولی | چنگاښ |
| خوراکي توکو پرسوب او غيرې الکولي څښاک | ٤٧,٨ | ۱۲,۸۸ | ۱۲,۷۱ | -۱,۸۷ | -۱,۸۱ |
| ډوډې اوړه غلې دانې | ۱٤,٦ | ۱٥,۷۸ | ۱٤,۰۷ | ۱,۱۷ | -۱,٤۱ |
| غوښه | ۷,٥ | ۱۲,٤۹ | ۱۲,٦۳ | ۱,٦۷ | ۱,۲٦ |
| لبنيات(شيدی،پنير،هگی) | ٤,۷ | ۳,٥۸ | ۳,۳٥ | -۰,۸٦ | -۰,۹٦ |
| غوړي | ٤,٦ | ۲۱,٦۲ | ۱۹,٦۰ | ۲,۳۰ | ۰,۰۲ |
| وچه او تازه ميوه | ٥,۰ | ۱۰,۸۸ | ۲۰,۰٥ | -۳,۷٦ | ۱,۷۹ |
| سابه | ٦,۰ | ۱٦,۱٥ | ۱٤,٦۰ | -۱٥,۰۳ | -۱۱,۸٥ |
| خواږه | ۲,۷ | ۳,٥۹ | ۲,۸٤ | ۱,۱٥ | ۰,۱۰ |
| مصاله | ۱,۳ | ۱۱,٥۷ | ۱,۷۰ | -٤,۸۰ | -۹,٦۹ |
| غيرې الکولي څښاک | ۱,٤ | ٤,۰۸ | ٥,۱٥ | ۰,٥۸ | ۰,٥۱ |

سرچينې : د احصايي او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

### د خوراکي توکي شاخص د میاشتيني محاسبې پر بنسټ چنگاښ په میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوی

د خوراکي توکو شاخص په برخه کې دمیاشتيني بدلون معيار پر بنسټ دچنگاښ په میاشت کې ۱,۸۱- سلنې ته رسيدلی دی، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې ۱,۸۷-سلنه سنجش شوی وو.




## دکلني محاسبې پر بنسټ دچنگاښ په میاشت کې د غلې دانې قیمتونو زیاتوالی کړی دی

**الف - ډوډۍ، اوړه او غلې دانې** چې تولیز پړسوب ۱۴.٦ سلنه ونډه لري ،د کلني محاسبې پر بنسټ له ۱۵٫۷۸سلنې نه تر ۱۴٫۰۷سلنې پورې دچنگاښ په میاشت کې کمه شوی دی. اوهمدا راز د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې برخې شاخص ۱٫۱۷سلنه غبرگولی په میاشت کې تر۱٫۴۱-سلنې پورې د ځیړنې په دوره کې کموالی موندلی دی. دا کمښت اساسآ د غنمو د تولید د زیاتوالي او د غنمو د ورکړې یا عرضې ښه والی له امله دی ، چې د دې شاخص قیمت کم شوی دی .د بیلگی په توگه د فراه ولایت د غنمو حاصلات د تیر کال په پرتله ۲۰ سلنه ډیر شوي.



**ب - غوښه** په ټولیز شاخص کې ۷٫۵سلنه ونډه ،د کلنی محاسبی پر بنسټ ۱۲٫۴۹سلنې تر ۱۲٫٦۳سلنې پورې دچنگاښ په میاشت کی زیاتوالې موندلی دی.دا بدلون د میاشتینې محاسبې پر بنسټ (په لند مهاله توگه)له ۱٫٦۷سلنه تر ۱٫۲٦سلنې پورې کم شوی.ددې اصلی لامل یې هم دڅارویو نرخونه لوړ والی په خاصه توگه د لوی اختر ته چمتو والی او د مالونو ساتل په خاطرد قربانی کولو ته گټل کیږی.




**پ** - د کلنې محاسبې پر بنسټ **دلبنیات :(شیدې،پنیراو دچرگانو دهگی)**قیمت چې دمصرفي توکوټولیز شاخص ۴٫۷سلنه جوړوي د کلنې محاسبې پر بنسټ له ۳٫۵۸سلنې تر ۳٫۳۵ سلنې پورې د څیړنې په موده کې کموالی موندلی دی .
سربیره پر دې دمیاشتینې محاسبې پر بنسټ د دې برخې شاخص له ۰٫۸٦- سلنې تر ۰٫۹٦- سلنې پورې کموالی کړی دی. لکه څرنگه چې وینو د چنگاښ میاشت د واښو شتون لپاره مناسب میاشت دی،او د څارویو لپاره د څرځای لپاره ښه څمکه چمتو کیږی ، له همدې امله د شیدو وده لوړه شوې او د شیدو نرخ پدې ځانگړې موده کې کم شوی ، او همدا راز د هگیو غیرقانونې واردات هم په کورنیو بازارونو کې د هگیو قیمت کمیدو لامل شوی.



**ت -** د خوراکي توکو یوه مهمه برخه هم **دغوړیو** شاخص دی . چې په ټولیز شاخص کې ۴٫۶سلنه ونډه لري . د دې برخې شاخص د کلنیمحاسبې پر بنسټ دغبرگولی په میاشت کې له ۲۱٫۶۲سلنه تر ۱۹٫۶۰ سلنې پورې دچنگاښ په میاشت کې کمه شوی دی. او همدا راز،دمیاشتینی محاسبې پر بنسټ د دې شاخص قیمت له ۲٫۳۰ سلنې تر ۰٫۰۲سلنې کموالی موندلی دی.

تیرو میاشتو کې د غوړیو بیه د هیواد په بازارونو کې د ترانسپورت محدودیت او دعرضې کموالې له امله لوړه شوې وه .خودا مهال د محدودیتونو اسانتیا او د د ورکړې ښه والی دی لړۍ سره مرسته وشوه چې د ذکر شوي شاخص نرخ بیرته نورمال کچې ته راولي.

**ث - د وچې او تازه میوې**شاخص چې په ټولیز شاخص کې ۵٫۰سلنه ونډه لري.دکلنی محاسبې پر بنسټ ۲۰٫۰۵ سلنې ته رسیدلی دي،حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې ۱۰٫۸۸سلنه سنجش شوی وو .له بلې خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې برخې دشاخص قیمت له ۳٫۷۶-سلنې د غبرگولی په میاشت کې تر۱٫۷۹سلنې پورې دچنگاښ په میاشت کې زیاتوالی موندلی دی.

افغانستان په کال کې ۳۵۰ زره ټنه میوې او سبزیجات پاکستان هیواد ته صادروي ،خو د کوید ۱۹ وبا په مهال ، پولې له افغانستان سره د هر ډول تجارت لپاره بندې وې . دې دمه کې پولید افغانستان او پاکستان ترمنځ پرانستل شوه چې د دې شاخص په نرخ کې د زیاتوالي لامل شو.




**ج - سابو** قیمت هم د چنگاښ په میاشت کې کمه شویده . دا برخه په ټولیز شاخص کې۶٫۰سلنه وزن (ونډه) لري.

او کولای شي هر بدلون په دې برخه کې د پیسو ټولیز پړسوب تر اغیزې لاندې ونیسي .ددې برخې قیمت د کلنیمحاسبې پر بنسټ له۱۶٫۱۵.تر ۱۴٫۶۰سلنې پورې د غبرگولی په میاشت کې کموالی موندلی دی.او همدا راز دمیاشتني محاسبې پر بنسټ ددې شاخص قیمت له ۱۵٫۰۳- سلنې تر ۱۱٫۸۵- سلنې پورې زیاته شوی ده.

د دې شاخص د کموالي اصلي دلیل موسمي اغیزې دي چې کورني بازار ته د ورکړې زیاتوالي لامل شوی او ددی شاخص بیه یې تر اغیزې لاندې نیولی .

**ح- خواړه** چې په عمومي شاخص کې ۲٫۷ سلنه ونډه لري ،له ۳٫۵۹ سلنې تر. ۲٫۸۴سلنې پورې چنگاښ په میاشت کې کموالی کړی دی. او د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې شاخص قیمت له ۱٫۱۵سلنې تر ۰٫۱۰سلنې پورې بدلون موندلی ده.

د دې شاخص د بیې کموالی لامل په هیواد کې په دی نږدی کلونو کې د شاتو مچیو ساتل او د شاتو تولید د پام وړ لوړ شوی ، یوه بیلگه یې د فراه په ولایت کې د شاتو وده ، چیرې چې د شاتو تولید ۴۰سلنه دځیړنې په موده کې لوړه شوی دي.




**خ** - د څیړنې په دوره کې د **مصاله جاتو** قیمت هم د کلني محاسبې پر بنسټ کموالی ښکاره کوي،چې دکلني محاسبې پر بنسټ له ۱۱٫۵۷سلنې تر۱٫۷۰سلنې پورې کم شوی ده .او همدا راز، د میاشتینی محاسبې پر اساس له ۴٫۸۰-سلنه کې تر۹٫۶۹-سلنې پوري کموالی کړی دی.

د دې شاخص د کمیدو اصلي لامل فصلی اغیزی او کورني بازار ته د هوگیاو مرچ زیاد ورکړه گڼل کیږی.

**د - غیرې الکولی مشروبات** قیمت دکلني محاسبېپر اساس له ۴٫۰۸سلنې تر ۵٫۱۵سلنې پورې زیاتوالی کړی دی. همدا راز د میاشتیني محاسبې پر اساس ،د دې برخې شاخص له ۰٫۵۸سلنې تر ۰٫۵۱سلنې پورې دچنگا ښ په میاشت کې کموالی په گوته کوي

د دې شاخص ډیریدو لامل موسومي اغیزې دې ، ځکه چې په دوبي کې غیر الکولي مشروباتو مصرف مخ په ډیریدلو اوسي .




| غیرِي خوراکي توکوپرسوب(غبرګولی –چنګاښ ) ۱۳۹۹ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اقلام | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتیني بدلون | |
| | | غبرګولی | چنګاښ | غبرګولی | چنګاښ |
| غیرِي خوراکي توکي تنباکو او چوپړتیاوي | ٥۲,۲ | ۰,۱۳ | ۰,۳۱ | ۰,۳٥ | -۰,۳٥ |
| سګرت او تنباکو | ۰,۳ | ۱,٤۰ | ۲,۷۳ | ۰,۲۹ | ۰,۰٥ |
| جامې | ٤,٦ | ۷,٥٤ | ٦,۷۷ | -۱,٥۹ | -۰,۷۸ |
| استوګن ځای | ۱۹,۱ | -۴,۰۲ | -۲,۷۷ | ۰,۱٦ | ۰,۱٤ |
| دکور سامانونه | ۱۱,۹ | ۰,۷۸ | ۱,۸۹ | -۰,٦۰ | ۰,۴۳ |
| درملنه | ٦,۲ | ۸,۸٦ | ۸,۷۲ | ٤,٦۰ | ۰,۱۹ |
| ترانسپورت | ٤,۳ | -۱۰,٤٤ | -۱٤,۷٦ | -۰,۱۲ | -٥,۱۰ |
| مخابرات | ۱,۷ | -۲,٤۰ | -۲,۰٦ | -۰,۲۰ | -۰,۰۷ |
| اطلاعات و فرهنګ | ۱,۱ | ۳,۱٥ | ۰,٦۸ | ۰,۷۰ | -۱,۸٥ |
| ښوونه او روزنه | ۰,٤ | ۰,۸۳ | ۱,۱٦ | ۰,۰۷ | ۰,۰۱ |
| هوټل او رستورانت | ۱,۱ | ۰,۹۷ | -۱,۲۰ | ۰,۰۹ | -۱,۸۹ |
| متفرقه | ۱,٤ | ١٤,۱۷ | ۱۳,۳۷ | ۱,۱٤ | ۰,۳۳ |

سرچینې : د احصایې او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

### (۲) غیرِي خوراکي توکی کلنی پړسوب دچنګاښ په میاشت کې هم بدلون کړی دی.

**غیرِي خوراکي**توکو شاخص چې دټولیز شاخص ٥۲,۲سلنه جوړوي د۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال د چنګاښ میاشت کې بدلون راغلی دی او ۰,۳۱ سلنې ته رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې۰,۱۳سلنه سنجش شوی وو. او د دې زیاتوالی لامل( کور،دکورسامانونه ښوونه او روزنه ،مخابرات ) دبیې زیاتیدل ګڼل کیږي.

.




دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ ددغې برخې شاخص له ۰,۳۵سلنه دغبرگولی په میاشت کې تر ۰,۳۵-سلنې پورې د.چنگاښ میاشت کې کموالی کړی دی .

.



**الف - دجامو** دشاخص قیمت  چې دتولیز شاخص کې ۴،٦ سلنه ونډه لري له ۷،۵۴سلنه  تر ٦،۷۷ سلنې پورې د۱۳۹۹ کال دچنګاښ میاشت کې کمه شوی دی. او همدا راز  دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ هم ددې برخې قیمت له ۱،۵۹-سلنه  تر ۰،۷۸-سلنې پورې دچنګاښ په میاشت کې کموالی موندلی دی. په تیرومیاشتو کې په هیواد کې د جامو قیمت د ترانسپورت محدودیت له امله لوړ شوی وو او د ټوکر او بوټانو وارداتو محدودیتونو په کمیدو لړۍ سره  د یاد شوي شاخص نرخ بیرته نورمال کچې ته راوستلو کې مرسته کړې. همدا رنګه چې ډیری جامې له پاکستان هیوادڅخه  واردیږي د پاکستان هیواد کی  جامو شاخص بیه له ۱۱ سلنې څخه ۱۰،۰۳ سلنې ته راټیټه شوې ، او ددی لامل ګرځیدلی دی چی زمونږ په هیواد کی د جامو بیه را ټیټه کړی.




**ب - کور،اوبو ،بریښنااو ګاز** ۱۹،۱ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري ، دکلني محاسبې پر بنسټ له ۴،۰۲-سلنېتر ۲،۷۷- سلنې پورې د ۱۳۹۹کال دچنګاښ میاشت کې کموالی ښکاره کوي .لکه څرنګه چې ګورو د دې  برخې ونډه په ټولیز شاخص کې زیاته ده له همدې کبله دی چې هر بدلون په دې برخه کې په ټولیز شاخص باندې ډیره اغیزه لري ،له بلی خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې شاخص  قیمت د چنګاښ  میاشت کې تر۰،۱۴سلنې  پورې رسیدلی ده. حال دا چې ددې شاخص قیمت په تیره میاشت کې ۰،۱٦سلنه سنجش شوی وه.
د قرنطین  کمیدلو سره ، د کور جوړونې بیا پیل کول ساختماني موادو ته غوښتنه لوړه شوې چې د ذکر شوي شاخص قیمتونو د لوړ والی لامل ګرځیدلی دی.



**پ - دکور سامانونه** چې۱۱،۹ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري د غبرګولی په میاشت کې له ۰،۷۸سلنې تر۱،۸۹سلنې پورې دچنګاښ په میاشت کی زیاتوالی موندلی دی او د میاشتینې محاسبې پر بنسټ له ۰،۶۰-سلنه تر ۰،۴۳سلنې پورې دچنګاښ په میاشت کې زیات شوی. د لوی اختر نږدې کیدلو له وجې نه ، دکور سامانونو پیرود لپاره د غوښتنې ډیروالی ددی لامل ګر څیدلی چې ددی برخې شاخص تر اغیزې لاندې ونیسي.

. **ت - روغتیا**شاخص چې په ټولیز پړسوب کې ۶،۲ سلنه ونډه لري، دکلنې محاسبې پر بنسټ د روان کال دچنګاښ په میاشت کې تر ۸،۷۲سلنې پورې زیاته شوی ده، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې۸،۸۶سلنه ثبت شوې وو.له بلې خوا د میاشتینی محاسبې پر بنسټ له ۴،۶۰سلنې تر ۰،۱۹ سلنې پورې کموالی ښکاره کوي. لکه څنګه چې په هیواد کې د کویډ - ۱۹ ناروغانو شمیر کم شوی ، د درملو پیرود لپاره د غوښتنه هم کمه شوې چې د دې شاخص قیمت کې کمښت لامل ګرځیدلی دې.




**ث - ټرانسپورت** چې دټولیز شاخص ۴،۳۲ سلنه جوړوي .دکلنې محاسبې پر بنسټ د روان کال دچنګاښ یپه میاشت کې له ۱۰،۴۴- سلنې تر ۱۴،۷۶-سلنې پورې بدلون موندلی دی.

او همدا راز .د میاشتیني محاسبې پر بنسټ،دا برخه د غیرې خوراکي توکو شاخص له ۰,۱۲ - سلنې تر۵,۱۰- سلنې  پورې کموالی کړی دی.
د دې شاخص د کموالي اصلي لامل په نړیوال بازار کې د ډیزلو او د خامو تیلو قیمتونه په ترتیب سره ۰,۳۱- سلنه او ۳۵ -سلنه کم شوي دي




ج - د**مخابراتو**شاخص په ټولیز شاخص کې ۱,۷ سلنه ونډه لري د کلني محاسبې پر اساس د مخابراتو قیمت تر۲,۰۶-سلنې  پورې زیات شوی دی. ، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې  هم۲,۴۰-سلنه سنجش شوی وو. او همدا راز د میاشتینی محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمت له ۰,۲۰-سلنې  تر ۰,۰۷- سلنې پورې زیاتوالی کړی دی.
ح - او همدا رنگه **اطلاعات او فرهنگ** چې ۱,۱ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري ،ددې ښکارندوی دي چې په ټولیز شاخص باندې ډیر لږ اغیزه کړی.او د دې شاخص قیمت  د کلني محاسبې پر اساس له ۳,۱۵سلنې نه  تر ۰,۶۸سلنې پورې کموالی موندلی  دی، او د میاشتینیمحاسبې پر بنسټ له ۰۷۰سلنې ۱,۸۵- سلنې پوری کموالی ښکاره کوي.



**خ - د ښوونې او روزنې** شاخص د کلني محاسبې پر بنسټ چې له ۰٫۸۳سلنه دغبرګولی په میاشت کې تر ۱٫۱٦سلنه پورې د څیړنې په دوره کې زیاتوالی کړی دی. او همدا راز دمیاشتینی محاسبې پراساس دا شاخص له ۰٫۰۷ سلنې تر ۰٫۰۱سلنې پورې بدلون څرګندوي. پخوا د کوډ ۱۹ وبا د مخنیوي لپاره ، د زده کړې مرکزونه تړل شوي وو چې د دې شاخص د نرخ کمیدو لامل شوي وو ، اوس مهال د پوهنتونونو بیا پرانیستلو سره د دې شاخص بیه لوړه شوه.

**د - رستورانټ او هوټل** د شاخص قیمت غبرګولی په میاشتکې له ۰٫۹۷ سلنې تر ۱٫۲۰- سلنې پورې د روان کال د چنګاښ میاشت کې کموالی کړی دی. همدا راز دمیاشتیني سنجش پر بنسټ دا شاخص د غیرې خوراکي توکو له برخې نه له۰٫۰۹سلنه تر ۱٫۸۹- سلنې پورې د څیړنې په دوره کې کموالی کړی دی د خواړو او څښاک بیه د چنګاښ په میاشت کې راټیټه شوې اود دې لامل ګرځیدلی چې ددې شاخص بیه یې تر اغیزې لاندی ونیسې.

**ذ - او همدا راز د متفرقه** برخې شاخص د روان کال د غبرګولی په میاشت کې له ۱۴٫۱۷سلنې تر۱۳٫۳۷سلنې پورې دچنګاښ په میاشت کې کموالی کړی دی. او همدا راز د میاشتیني سنجش پر بنسټ له ۱٫۱۴سلنې تر ۰٫۳۳سلنی پورې زیاتوالی کړی دی.

## دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون)

په هیواد کې د هستیي انفلاسیون کچه د د افغانستان بانک د پالیسو اغیزمنتیا د قیمتونو ټولیزې کچې کچې باندې د کنترول ښکارندویې کوي. د دې معیار پربنسټ، د انفلاسیون د کچه بدلونونه چې غیر عادي عوامل لري او د کنترول هم بهر دي، په شاخص کې په پام کې نه نیول کېږي د انفلاسیون کچه زیاته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غیرې عادي پیښو له امله اغیزمن کېږي. استفاده کېږی . په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوی چې په غیر عادی توګه قیمت یې بدلون مومي په شاخص کې ترنظر لاندې نه نیول کېږي تر څو پوري په ټولیز شاخص باندې یې د اغیزې نه مخنیوی وشي

د هستې انفلاسیون د معلومولو له معیارونو څخه یو یې هم د اوسط لنډیز (Trimmed Mean%۳۰ ) دی. دغه معیار یو مشخصه برخه په نظر کې نیسي او د ساده لنډیز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوې تر لرې کولو وروسته محاسبه کیږي .د دې معیار په اساس پیسو پړسوب د ۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال دغبرګولی میاشت کې له ۵٫۹۹سلنې تر ۵٫۲۸ سلنې پورې دچنګاښ په میاشت کې کم شوی دی.

بل معیار د هستې تورم عبارت دی له **لګښتیتوکو شاخص بې د ډوډۍ ،غوړي او ترانسپورت**څخه . چې پیسو پړسوب د دې معیار په اساس ۵٫۲۳سلنې ته د چنګاښ په میاشت کې رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې۴٫٦۱سلنه سنجش شوی وو. د دې معیار له مخې د میاشتیني محاسبې پر بسټ له ۱٫۴۵-سلنې تر۰٫۹۳-سلنې پورې زیاتوالی ښکاره کوي.


دهستې انفلاسیون په غیر د ډوډی ،غله ،غوړی او ترانسپورت او
خلاصه شوی اوسط
۱۰.۰
۸.۰
٦.۰
٤.۰
۲.۰
۰.۰
چنگابن۹۸
وږي۹۸
لړم ۹۸
مرغومی۹۸
کب ۹۸
غویی۹۹
چنگابن
د هستی انفلاسیون په غیر د ډوډی غله غوړی او ترانسپورت
خلاصه شوی اوسط (30% Trimmed Mean)

.